PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مرات الجهاد

لومړي کال (۱۷) ګڼه ۱۳۶۹ هـ ش کال دمرغومي (۱۹)مه

حرکت المجاهدین څلویښت هندي پوځیان ووژل

جنګ دجنوري ۷ :
مظفرآباد : له سرینګر څخه په رارسیدلو خبرونو کې ویل شوي دي چې دحرکت المجاهدین اتلو مجاهدینو دهندي پوځونو په هلو دتوغندیو اولاسي بمونو دحملې

« ۸ » مخ

داتمې فرقې قوماندان له ۲۸ تنو عسکرو سره مجاهدینو ژوندی ونیو

په اتم مخ کې

مولوي ارسلان رحماني له جهاد هنداري سره په مرکه کې :

زموږ پالیسي دجهادي تنظیمونو څخه کومه جلا پالیسي نه ده

په دریم مخ کې

سردي هوا وتوفان برف موجب مرگ بیش ازسه صد افغان شد

میدیا آژانس خبررساني حکومت موقت اسلامي افغانستان گزارش داده است که درهفته گذشته کم ازکم پنجاه تن ازافغانان درمناطق جنوبي افغانستان ودرکمپهاي مهاجرین وفات نموده اند.

بقیه درصفحه ۷

پایان کنفرانس وزرای خارجه پاکستان ، ایران وترکیه

کنفرانس دوروزهٔ وزرای خارجهٔ پاکستان ،ایران وترکیه که جهت بحث به روابط ذات البینی اوضاع منطقه وخلیج در اسلام اباد دایر گردیده بود ، موفقانه به پایان رسید.

گزارش های مطبوعاتی

درصفحه ۸۰ -

درې تنه فلسطینیان شهیدان شول

نوای وقت دجنوري ۷ :
له لبنان څخه په بوخپورشوي خبر کې ویل شوي دي چې سیدون ته نږدې داسرائیلو جنګي الوتکو بمباري وکړه.

په اوم مخ کې

دبنګله دیش دپخواني صدراعظم پر کارخانه زده کوونکو حمله وکړه

نوای وقت دجنوري ۷ :
په یوخپورشوي خبرکې ویل شوي چې په ډاکه کې تقریباً سل تنو زده کوونکو دبنګله دیش د پخواني صدراعظم ددواجوړولو په کارخانه حمله کړیده .

قهریدلو زده کوونکو دصدرددفتر مخې ته اورواچاوه اوددفتر زیات شمیر نقلیه وسایلو ته یې زیان ورساوه.

یوروسي ژورنالست « کروژلین » :

نن په نړۍ کې اسلامي غورځنګ ترهرڅه زیات خطرناک دی

نامنګان :رویټر:
دروسانو پر خلاف دازبکو اوسیدونکو په منځ کې زیاته کرکه اونفرت دی.څوورځې وړاندې دازبکستان دنامنګان ښارپه مرکزي چوك کې ازبکانو پنځه تنه روسي پوځیان له یوه بس نه راکوز کړل اوترکوټکو

۳۰- مخ

په سعودي کی دامریکایي پوځونو دمړیو شمیر (۹٤) تنو ته ورسید

ریاض: په سعودي عرب کې دامریکا یوبل پوځي دیوې پوځي لارۍ له یوه جیپ سره دټکر کیدو په پیښه کې وژل شویدی چې سعودي عربستان ته دامریکایي پوځونوله راتلونه ترننه پورې « ۹٤ » تنه دمختلفو پیښو په ترڅ کې وژل شویدي .

که عراق خپل پوځونه ونه باسي داکاربه خطرناك عواقب ولري

جنګ دجنوري ۷:
واشنګټن : دامریکې جمهوررئیس جورج بش ویلي دي چې امریکا په جنیوا کې په شروع کیدونکو خبرواترو کې له هیڅ ډول پټې ډیپلوماسۍ څخه کارنه اخلي بلکې په دې خبرواترو کې دامریکا دریځ دادی چې عراق باید له کویټ

۷۰ مخ

سلمان رشدي د(شیطاني آیات) په لیکلو پښیمانه نه دی

داکانومست آونیزې لیکلي چې ملعون سلمان رشدي چې په تیرو ورځو کې یې اسلام ته دبیرته راګرځیدو آوازې خپرې شوي په دې راضي شوی چې «شیطاني آیات » کتاب یې بیا تکثیرنه شي اونه په کومه بله ژبه وژباړل شي ،خوهغه لا دکتاب په لیکلو پښیمانه نه دی اوپرخپل کفراوجهالت اصرارکوي.له بلې خوا دایران دامام خمیني فتوا چې سلمان رشدي باید اعدام شي هم پخپل ځای پاتې ده .

عراقي پوځیان اوعوام داوږدې جګړې لپاره چمتو دي

بغداد :
دعراق صدرصدام حسین دعراق دپوځي ورځې په مناسبت په یوخپورشوي پیغام کې ویلي دي چې عراق کویټ دخپل (۱۹) ایالت په توګه اعلان کړی داکومه خیالي خبره نه ده ، بلکې دایوڅرګند حقیقت دی چې هغه نن هم دعراق دخاورې یوجغرافیایي

ص « ۸ »

له سرمقا

داتحاد په لوریوبل ګام

تیره اونۍ دافغانستان دجهادي قوماندانانو دشورا اودعلماو واتحادیې په یوګډه اعلامیه کې دیولړداسې توافقاتو اومواضعو اعلان وکړچې په موجوده شرایطو کې دمقاومت دېرې په لارکې دیوه نوي اوضروري قدم اوزیري په توګه یې ډیر په زړه پورې هرکلی وشو چې بې له شکه یې داستعمار دحربواوتوطئو په وړاندې دیوه کلك اوپولادین سنګر دپیاوړتیا اوپراختیا عملي زمینه برابره کړه .

په اعلامیه کې دهغو ټولو استعماري طرحو اوتوطئو په وړاندې داسې یومثبت متحد اوانقلابي دریځ غوره کړی شوی چې دهغې له مخې دمقاومت قاطع اوپرېکنده حرکت ته پوره چټکتیا وربخښلی شي .

داستعمار داحربې که دمخلوط اوپه اصطلاح بې طرفه

۸۰- مخ

حفیظ الله امین چگونه کشته شد ؟

درصفحه (۲)

خلیج دیوخوفناك اورتون پرغاړه

په دوهم مخ کې

په افغانانو کې صبروُ ، ثبات وُ،راسخه عقیده او قوي عزم وُ چې روسانو ته یې ماته ورکړه

(الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

محمد نذیر «بشارت»

خلیج دیوه خوفناك اورتون پر غاړه !

تراوسه دافغان مظلوم قوم دتن نه وینی څاڅی په وطن کې بې دجګړې داورلنبې ندی کینستی ، داسلامیت ... محرومیت ...اوحقانیت په جرم بې دوژل کیدو اوځوریدو روانسوز داستان ندی ختم شوی تراوسه لا په یوه نه توجیه کیدونکی اواحمقانه جګړه کې دایران اوعراق دمظلومو ملتونو توبی شوی وینی ندی وچی شوی تراوسه لا دبی وزله فلسطینیانو له کوره دوحشت اوجارحیت دواکمنی دکله کیدو دامید څرك هم ندی ترسترګو شوی تراوسه لا دبی رحمو هندوانو په لاسونو دمحکومو کشمیر یانو دتویدونکووینو دلبنتیو نظاره دمسلمان زړه ریږدوی اوپری روان وحشتونه اوتاړاکونه ورځ په ورځ نوی شدت اونوی هیبت مومی .

چی دادی امریکا غواړی په خلیج کې دیوی خوفناکی جګړې توپان راوالوزوي دبی ګناه مسلمانانو دوینو رودونه وبهوی ځواکونه اوزیرمی یی تباه کړی اودیوی انسانسوزی فاجعی په ویربې وسوځوی .

ظاهراً امریکا ښیی چی ګنی له کویټ نه دعراقی لښکرودوتو لپاره اودکویټ داستقلال داعادی په خاطر جګړه کوی خوکه څوك دامریکا پدی خبره باورکوی ډیره ساده وي !!

کله چی ترنن لس کاله دمخه دعراق لښکری په ایران وروختی هلته ولی له امریکا سره دتیری دمقابلی سوال نه ؤ مطرح ؟ همدارنګه تقریباً دانیمه پیړۍ ده چی فلسطینی مظلوم ملت له خپله کوره شړل شوی اودجنایت کارو اسرائیلو دوحشتونو اوجارحیتونو ترتیرولاندی دل کیږی ټوله نړۍ ګوری چې نه یوازی امریکا پری غوږنه ګروی بلکی داسرائیلو له موجودیت نه نیولی ترهرحرکت پوری ټول دامریکا دمرستو اواشارو نتیجه ده .

له نن نه یوولس کاله دمخه چی روسانو افغانستان ونیواوپه ډیروحشت اوسبوعیت یی ونیو ټولی نړۍ ولیدل چی دامریکا عکس العمل فقط په مسکو کی په کیدونکو اولمپیك لوبو کی نه ګډون اوروسیی ته دیو اندازه غلی دلیږلو تحریم ؤ.

نه دجګړې اعلان وه نه دمرستو اعلان اونه هم دکوم غوڅ سیاست خبره . ان تردی چې دافغانستان اشغال یی یوترسره شوی عمل ګانه اویواځی دهغه نه راپه دی خوا دپله له اخیستو ګوابنونه کول .

دایوکال چی په کشمیرکی دظلم اوتاړاك کوم شرمناك ناورین روان دی بشپړ ملت دوحشت په لنبوکی ښکیل شوی ، دلکونو هندی پوځیانو سری برچی دی اودبی ګناه کشمیری ولس دتن غوښی ، آیاامریکایی واکمنو تراوسه دیوی ذری قدری انسانی احساس مظاهره کړی ؟ آیادهند ددی رسوا وحشت پر خلاف یې یوه خبره له خولی وتلی؟

مګر داامریکا نه وه چی دوه کاله دمخه یی دپانامی په هیواددکوماندو اوټانکونو غوبل جوړکړ ، اوجمهوررئیس یی لاس تړلی دامریکا زندان ته یووړاودخپلی خوښی څیره یی

ص «۷»

حفیظ الله امین چگونه کشته شد ؟

فرستادن عساکر به افغانستان وحمله به انکشوراشتباه بزرگ بوده وبه استثنای چندتن ازرهبران کسی درروسیه ازان اطلاع نداشت .

این مطلب رادوتن ازعمال کی ، جی ، بی که به غرب فرارنموده اند ابرازداشته اند.

یکی ازین دوتن «اولیگ گوردیفسکی » است که قبلاً دردستگاه کی ، جی ، بی دارای مقام عالی بودموصوف درکتابی که تحت عنوان «قصه های مخفی »بکمك یك مورخ امریکایی نگاشته است ، گزارش مفصل ازپیروزیها وناکامیهای عملیات جاسوسی کی ، جی ، بی رااززمان لینن تادوران گرباچف به تحریر دراورده است .

گوردیفسکی نوشته است حفیظ الله امین راکی ، جی ، بی به قتل رسانید نخست کی ، جی ، بی بیك اذربایجانی که بنام(طالبوف) مسمی بود وظیفه داد تادرلباس اشپزدارگ ریاست جمهوری داخل گردیده و حفیظ الله امین را مسموم نماید .

موصوف علاوه نموده است . چون حفیظ الله ازین بابت نگران بودلذا نان خودرا بادیگران تبدیل می نمود .

این مطلب رامامورديگر کی ، جی ، بی که بنام کوزیچکین یادمیشود وچندی قبل به غرب پناه برده نیزتائید نموده است .

نامبرده افزوده است چون وضع افغانستان درهنگام حفیظ الله امین رویه خرابی گذاشت درنتیجه رهبران روس وکی ، جی ، بی تصمیم اعزام عساکر به افغانستان رااتخاذ نمودند .

این مامورکی ، جی ، بی پیرامون جزئیات حمله بر قصر ریاست جمهوری وقتل امین نوشته است : قوماندانی قطعه کوماندویی راکه به قصر ریاست جمهوری حمله نموده بود یك دگروال کی ، جی ، بی بنام «بوریانوف » به عهده داشته است .

بوریانوف دستورداده بود که هیچ افغان درریاست جمهوری زنده باقی نماند تاجریان وجزئیات حمله بکسی افشا نگردد .

اما دلچسپ اینست که خوددگروال بوریانوف نیز که یونیفورم عساکر افغانی رابه تن کرده بود قربانی دستورخویش شد .

موصوف علاوه کرد: رهبران روس سه ماه بعد ازحمله نظامی برافغانستان باین دگروال کی ، جی ، بی لقب ومدال قهرمانی دادند.

اما کلانوف مدیر مسوول یکی ازنشریه های روسیه مطلبی تحت عنوان (حفیظ الله امین راچگونه کشتند)نوشته است :

روز۲۷ دسمبر ۱۹۷۹ حفیظ الله امین بمناسبت برگشت دستگیر پنجشیری منشی کمیته مرکزی حزب کمونست وافتتاح قصرتپه تاج بیك که قبلاً محل قوماندانی قوای مرکز بود اما حفیظ الله امین بعد ازترمیم ان رابدستورروسها محل رهایش خودانتخاب نمود مهمانی مجللی برپا نموده بود که دران اعضای دفترسیاسی ووزراباخانمهایشان اشتراك ورزیده بودند.

کلانوف نوشته است : امین بارضایت ازوضع وروابط دوجانبه به مهمانان گفت هم اکنون قطعات نظامی روس به سوی افغانستان درحرکتند. وی خطاب به مهمانان گفت : من همیشه برای شما گفته ام که همسایه بزرگ ما رادرحالت گرفتاری فراموش نمی کند ، همه چیز بصورت فوق العاده وخوب پیش میرود ، من باگرومیکو (وزیر خارجه انوقت روس) ازطریق تلفون بصورت دوامدار به تماس هستم واین موضوع راکه کمک نظامی روس راچگونه به جهانیان اعلام کنیم تحت غورداریم.

> **درین حوالي پارچه بم منفلقه به تن امین اصابت نموده اورابسوي دیگر اطاق پرتاب نمود بعد ازیکي دودقیقه مردمسلح که لباس عسکري افغاني به تن داشت داخل اطاق گردیده بالاي جسد امین استاد**

امین ازین موضوع بسیارخوشحال بود که توضیحاتش رادررابطه به قتل تره کی وتغییر حکومت، روسها پذیرفته بودند وازینکه پنجشیری توانسته بود ازین ماموریت موفقانه بازگردد خوشحال بود وبقول پنجشیری روسها باتائید استحکام مزید روابط ، قول داده بودند تاکمك وسیع نظامی رابه حکومت امین بدهد .

کلانوف درادامه نوشته است : بعد ازصرف طعام مهمانان به سالون مجاوررفتند ، همه اینها به استثنای پنجشیری که شوربا رادرصفره نخورده بود به حالت بیهوشی افتادند . مستخدمین باعجله تمام به سفارت روس درکابل وشفاخانه اردو تلفون کشیدند تادوکتوران سروقت برسند.

ص «۷»

نن په نړۍ کې اسلامي غورځنګ ترهرڅه زیات خطرناك دی ...

لاندی یی بالاخره ووژل ، ددې پیښې علت دابیي چې ازبکانو ته ویل شوی وو چې دغورزوسی پوځیانو دیوی ازبکی ښځی جامی ایستلی وې ، وروسته بیا دپیښی ځای ته نورپوځونه راغلل اویوه لویه هنګامه جوړه شوه تردې چې «۸۱» تنه نورروسی پوځیان اوازبك مسلمانان ټپیان اوشفاخانی ته ورسول شول .

ازبکستان داسلامی محکومو ریاستونو نه یودي چې له «۷۳» کلو راپه دیخوا دروس ترقبضی لاندی دی سره له دی چی ازبکستان دطبیعی منابعو اونوروتولیدی مؤسسو سترمرکزدی خوبیا هم مسلمانان چی نږدی ټول جمعیت یی تشکیلوی ډیرغریب اووږی دی ، همدغه ظالمانه نظام چی ددوی هرڅه روسان ورنه تښتوی اوهمدغسی اسلام اومذهب ته دازبکو کلك میلان اوعقیده دوی دروسانو پرخلاف راپارولی .

په ازبکستان کی دروسانوپر خلاف ډیرزیات نفرت دی اوهلته اوس داسلام ریښی نوی غزونی کوی اوځوانان یی په غورځنګ راولی که څه هم څنی روسان په دی عقیده دی چی ازبکان له روسانو نه له پوځیانو څخه کرکه اونفرت لری خوسمه خبره داده چی دازبکستان مسلمانان له روسی ښکیلاکګروسره سخته کینه لری اوهمدغه مطلب یوه روسی ژورنالست اویوه کروژلین روس ته دیوه اخطارپه توګه داسی ښیی چی « نن په نړۍ کی اسلامی غورځنګ ترهرڅه زیات خطرناك دی ».

زموږ پالیسي دجهادي تنظیمونو څخه کومه جلا پالیسي نه ده

مولوي ارسلا ن رحماني دافغانستان له علمی شخصیتونو اوپیاوړوقوماندانانو څخه دی.دی په ارګون کې دمجاهدینو قومانده په غاړه لري اودښمن یې څوځوواره له شرمیدلې ماتې سره مخامخ کړي اودیوه قهرمان اوفاتح قوماندان په توګه لګیا دی جهادي چارې پرمخ بیایي.۱۷کاله یې ددیني علومو په زده کړې تیرکړي او۱۵کاله یې دتفسیراوحدیثو تدریس کړی.نوموړی دجهاد دمخکښو اوقهرمانو قوماندانانوڅخه دی دوی دظاهرشاهي فاسد حکومت له وخت څخه تبلیغي جهاد پیل کړی.رحماني صاحب داتحاداسلامي له تنظیم سره اړیکې لري اوددغه تنظیم داجرائیه شورا غړی دی د قوماندانانو دشورا فعال رکن دی.دجهاد هنداري خبریال له محترم مولوي صاحب سره دمقاومت دروانو حالاتو په اړه یوه مرکه کړې چې درنو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

۱-پوښتنه : تاسې فعلاً دمجاهدینو نظامي اوسیاسي اړخ څه ډول ارزیابي کوئ ؟

ځواب : زما په عقیده اوس دمجاهدینو نظامي اړخ دتیروکلونو په نسبت ښه دی ، که اوسنی وضعې ته وګورو دمجاهدینو قوماندانان په بري سره مخ په وړاندې روان دي اوله ټولومجاهدینو سره یوه نوې روحیه پیداشوې ده.

دسیاسي اړخ په هکله باید ووایو چې اوس داسلام دښمنانو په بیلابیلو ښو هلې ځلې پیل کړي چې زموږداسلامي انقلاب دبریالیتوب مخه ونیسي نوپه دې لړکې یې دمجاهدینو بري مخې ته څه ناڅه خنډونه راپیداکړي دي ، داسلام دټولو دښمنانو ددسیسو په مقابل کې غافله پاتې نشو اوپه قوي ایمان ددښمن هره دسیسه شنډه کړو اولکه څنګه چې په نظامي ډګرکې په دښمن بریالي یودغسې به په سیاسي ډګرکې هم بریالي شو.

۲-پوښتنه : دعبوري حکومت دانتخاباتودطرحې په باب څه نظرلرئ ؟

ځواب : سره له دې چې له موږقوماندانانو سره په دې برخه کې چا مشوره نه ده کړې اوټولو تنظیمونو دانتخاباتو طرحه رامخې ته کړې ده ، موږددې لپاره چې په هغو سیمو کې دتنظیمونوقوماندانان یو اوهمدارنګه دقوماندانانو دشورې غړي یو ددغه طرحې په عملي کولو کې به ترخپلې وسې کوښښ وکړو ، خوداچې په دې کې څه مشکلات اونواقص شته موږته یې دعملي کیدو چانس کم ښکاري.

۳- پوښتنه : دقوماندانانو په شوراکې له کوم وخت راهیسې عضویت لرئ ؟ اوآیا داعضویت مودتنظیم درهبري په خوښه دي که نه ؟

ځواب : زه دقوماندانانو دشورا دمؤسسینو په ډله کې یم ، موږددې شورا دجوړولو هڅې دهغې مشورتي شوراله وخت څخه راهیسې شروع کړی چې دوه کاله مخکې په مدینة الحجاج کې جوړه شوې وه اوپه هغې کې یوشمیرنومیالیو تحریکي قوماندانانو برخه درلوده .

> موږددې شورا دجوړولو هڅې دهغې مشورتي شوراله وخت څخه راهیسې شروع کړي چې دوه کاله مخکې په مدینة الحجاج کې جوړه شوې وه اوپه هغې کې یوشمیر نومیالیو تحریکي قوماندانانو برخه درلوده

له موږسره تنظیم ددې شورادفعالیت په شرطونوترډیره حده موافق دی اوکه څه ناڅه اختلاف هم موجود وي هغه به انشاالله ډیرژرله منځه ولاړشي.

٤- پوښتنه : که ستاسې دتنظیم پریکړه دقوماندانانو شوراله پریکړې سره متضاد وي تاسې کومې یوې ته ارزښت ورکوئ ؟

ځواب : زموږپریکړې به ټولې دشریعت په چوکاټ کې وي اوموږکوښښ کووچې هغې پریکړې ته ارزښت اوترجیح ورکړو چې دجهاد په ګټه وي بیا هم دایادونه ضروري ګڼو چې زموږپالیسي دجهادي تنظیمونو څخه کومه جلاپالیسي نه ده .

> زموږشورا چې کومې طرحې اواهداف لرې زموږجهادي مشران هم له موږسره په هغې کې موافق دي اوموږبه ټول مُشکلات له خپلو مشرانو سره دمفاهمې په صورت کې حل کوو

٥- پوښتنه : دغه شورادافغانستان دراتلونکي نظام اوقیادت لپاره کومې طرحې لري که نه؟ اودیوه واحد قیادت دجوړولو لپاره څه پروګرام ترلاس لاندې لري ؟

ځواب : دقوماندانانو دشورااهداف مشخص دي اوموږدمخه اعلان کړی دی چې هغه ترهرڅه لومړی ددښمن پرضد دجهادي عملیاتو تیزول اوتنظیمول دي ، دمجاهدینو داکمالاتو دلارو تأمینول ، دمجاهدینو ترمنځ په ځینو ځایونو کې دراولاړوشویواختلافاتو له منځه وړل اودجهاد په ګټه نیکو تبلیغاتو لپاره زمینه برابرول دي ، له دې شوراسره نورسیاسي اهداف نشته ، امکان لري چې په راتلونکي کې داشوراښه قوي اومنظمه شي اودمجاهدینو دمنظمولو اودجهاددچارو په ښه والي اوپرمختګ کې سترنقش ترسره کړای شي.

٦-پوښتنه : تاسی دشورادطرحې دموفقیت لپاره دتنظیمونوله مشرانواوولس څخه څه توقع اوغوښتنه لرئ ؟

ځواب : زموږشورا چې کومې طرحې اوهدف لري زموږجهادي مشران هم له موږسره په هغې کې موافق دي اوعام ولس څخه داهیله لروچې هغوی له موږسره په دې برخه کې پوره همکاري وکړي.

جنگ درافغانستان گلم ماتم روسها

یکی ازعساکر روسي که ازجنگ افغانستان زنده برگشته احساس خوشبختي کرده میگوید من خوشبختم وشادم که ازجنگ افغانستان زنده برگشته ام ، واگر اصلاً به افغانستان نمیرفتم بیشترازین خوشبخت وخوشحال می بودم.

این حرف یك عسکر روسي است که درکتاب «گینادی بخاروف » تحت عنوان «بازی بامرگ » نگاشته شده است .

گینادی بخاروف که بحیث خبرنگارهشت سال رابااردوی روسي درافغانستان سپری نموده است درکتاب خویش احساس واقعی عساکر روسی نسبت به جنگ افغانستان راانعکاس داده وازترس ، احساس نارضایتی وازرده گی های عساکرروسي سخن بمیان اورده است.

نویسنده درکتاب خویش درعین حال عساکر روسي رابحیث مظلومان تبارزداده است.

بخاروف نگاشته است تصمیم اعزام عساکرروسی به افغانستان ازسوی چند تن جاه طلب اتخاذ گردید ومردم عام طرفداراین جنگ نبودند.

گینادی بخاروف نوشته است : من ازشنیدن اعزام عساکرروسي به افغانستان سخت متعجب شدم ، چشمانم راسیاهی گرفت واحساس کردم که وطنم درگودال تاریکی افتاد .

بگفته موصوف : دلچسپ اینکه تعداد زیاد شورویها همچون من احساس داشتند اما جرائت بیان انرانداشتند .

گینادی بخاروف نوشته است : مقامات رسمی انچه میخواستند کردند درنتیجه حکومت روسیه تحت عنوان غالب ساختن ایدیالوژی خودده سال تمام جوانان روسیه رادرافغانستان به جنگ واداشت وباین ترتیب مردم شوروی رادرگلم ماتم نشاندند .

قابل یاداوریست که روسها قبلاً نمی توانستند راجع به جنگ درافغانستان حقایق رادرروسیه انتشاردهند اما اکنون ژورنالستان ونویسنده گان بااستفاده ازفضای بازسیاسی حقایق تلخ جنگ افغانستان رابه مردم شوروی بازگومی نمایند که انتشارکتاب مذکورنیز درهمین سلسله میباشد .

بدنبال افشاگریها جزئیات مداخله وحشیانه روسیه درافغانستان ژورنالستان روسیه کتب ورسایل مختلف رابنگارش می اورند که هرکدام ان به نوبه خویش افشا گربافت مخوف دستگاه جهنمی کی ، جی ، بی خودکامگی دستگاه رهبری کمونستی کرملین میباشد .

افغانستان بمثابه مکتبی که شجاعت درس داد

به همین سلسله «ارتیم بورویك » که سالهای زیادی بحیث ژورنالست باقوای روس درافغانستان بوده است کتابی تحت عنوان « جنگ مخفی » به نگارش اورده است که یك مشت حقایق راافشا می سازد.

موصوف درکتاب خودافشا کرده است، که بریژنیف ازنورمحمد تره کی رضایت زیاد داشت وهنگامیکه امین تره کی رابه قتل رسانید بریژنیف عصبانی گردیده امرصادر کرد تاهرچه زودتر به امین سزاداده شود .

طبق نگاشته موصوف تعدادی ازناظرین باین باورند که تصمیم لشکرکشی به افغانستان ازطرف بریژنیف رهبر حزب کمونست ودولت روس سوسلوف نظریه پردازحزب کمونست ، اوستینوف وزیر دفاع واندروپوف رئیس دستگاه جاسوسی کی ، جی ، بی بصورت مشترك اتخاذ شده اما ازه موضوع به دفتر سیاسی وکمیته مرکزی حزب کمونست اطلاع داده نشده بود وحتی بامشاورین امورخارجی نیزدرزمینه مشوره صورت نگرفته است وبعد ازتعمیل تصمیم منظوری ان ازکمیته مرکزی اخذ گردید .

«بورویك » ضمن انتقاد بررهبران روسیه نوشته است : رهبران این بی مغزان میگفتند افغانستان به اردوی روس بمثابه مکتبیست که درانجا شجاعت ودلیری رامی اموزانند ولی فرزندان خودرابااین مکتب نمی فرستادند .

ژورنالست مذکورنوشته : این رهبران داد ازانترناسیونالیزم

ص ۵۰ ..

چاهیڅ نه منله خود عصر قهرمان شومه
زه مثال دتوری ، قرباني په ټول جهان شومه
یادچی په «غازي میره » اتل شهید افغان شومه
زه ژوندۍ تمبیر دتیرعظیم عزت اوشان شومه
***** *** ***

سوپر دغلام کړلو

اوښکي پاکوه یتیمه خوله باندي خنداکوه
سوپر دغلام کړلو نوریي تماشاکوه
اوښکي ځکه توی شوي انتظاردخوشالي کوه
ویني ځکه توی شوي افتخارپه قرباني کوه
دادایمان توره باندي فخر په دنیا کوه
داخیالي قوت وو دبشر یي قصابي کړله
سره یي وولاسونه په بشربه یي مستي کړله
ستاپه ځنځیرنوکي اسیرشو تقاضا کوه
جوش ده ولولي دي دنړۍ په هره خوا باندي
بلي سري لمبي دي مړي به نشي ارمانيا باندي
پریږده ارمانیا کابل قصي دبخاراکوه
پاتي یي هډوکي شول په غرونو کي لیوانو ته
بیا به دغرورسراوچت نکړي افغانانوته
دادفتحي زیری په عمرپه مرتضی کوه
ووایه نغمي دآزادۍ په هندوکش باندي
وایه انفرمشن گورباچوف اوجارج بش باندي
څوکو دپامیر نه «بدرالدین » داوینا کوه

دجنگ میدان

سرې لمبي وې دمردکو چې به تلې پورته فضا ته سخته ورځ دقیامت وه جنګ جګړه وه هرې خواته زیړی لمر په ډوبیدو ؤدرنګ ساعت پس توره شپه وه نابېره شان جګړه وه دوزې کلي ترشاته په زیات شمیرټانکونه راغلل کوراوکلي یې غلبیل کړل الوتکو بمباري کړل غراوسمه شاوخواته مجاهد ځوانان راټول شول ددښمن پوځونه مات شول ډېرې مړه څه یې زخمي کړل پاتې نه شول څه سبا ته قرباني ځوانانو ورکړه داسلام ناموس جګړه وه میندو خویندو هم په زړه کې داسلام مینه وه زیاته دزلموسره په څنګ کې پیغله چونه جنګیدلې له زلمو به مخ ته تللې چې پیغورنشي«انا»ته چې دجنګ صحنه ساړه شوه چوپ چوپیا اوسکون راغی خوکوچني ، میندې زخمي وې څوك په سر د بازو شاته خودلرې په تیاره کې ښکاریدله نیم څرګنده یوه مورشهیده شوي وه پر ته دګړنګ خواته چې تیاره لمن کړه ټوله شوه څرګنده چې یوه مورده یوکوچنی ماشوم یې غیږکې هم خوړلی ؤ ټپ شاته دواړه غیږ په غیږ په وینو کې لت پت ؤلمبیدلي سره ګلان وژیړ ځبیښلی یوله بل نه ښکلا زیاته دهرچاچې پرې نظرشوویرژړا به یې کوله ویرشبخون هسې صحنه وه غم لړلې وه هرچاته هسې ډیرځوانان اوچونه له اسلام ځنې قربان شول شهادت دافغان ویاړدی ښه څرګنده ده دنیا ته یوموټی اویو لاس شی دوحدت لاسونه ورکړی داسلام دښمن نابود کړی چې ونه ګوري بیا تاته مامورون دغه کیسه کړه پښتنو ورونو بیدارشی اوس دښمن په ګونډو شوی پټ به نه شي دغره شاته که هرڅولیکم بیتونه «حیدري » ګیله به نه کړم کورپه کورڅان ځاني راغله بیا ګیله کوې ته چاته

غلې غلې

شفیقي

دتوپان دراتګ ویردی ، اشاري دي غلې غلې
سل فریاده پکي نغښتي ، ګونګوسي دي غلې غلې
پټ پټوني یي ښکاره شول ، رقیبان غاړه غړی دي
دازموږدسر لپاره دسیسي دي غلې غلې
دامت د«ښکیل » لپاره چل اوول نه دي نوڅه دي ؟
دلته هلته لري بري هنګامي دي غلې غلې
بس زموږدغو ښوویش دي بیا زموږدسر سودا ده
توراوسره کړي ترون دي آوازي دي غلې غلې
چې دجبر مقابل ته یوه کریږه شي فریادشي
له خفه مریو خیژي زمزمي دي غلې غلې
دبیلتون له رنځه سوي ، فریادي یاران راټول دي
که مینده کړي ګومه لاره مرکي دي غلې غلې
دنیکونو پر نغریو لاسکروټي دغیرت شته
لاندي بل دي انګارونه پاس ایرې دي غلې غلې
رقیبان بیا تیر وتلي خدای ع پوهیږي سربه وخوري
چې په خودټوله دنیا کړي ولولې دي غلې غلې

- بی معنی خبری په زړه کی ځای نه نیسی
- هوښیارهغه دی چی دوخت سره سمه خبره وکړی

چې الف اوبې نه نه دي خبر
دبصیرت عویداران جوړدي
څوك چې لګیا دي خرڅوي قامونه
هغوی قامي انقلابیان جوړدي

دارمانونو ځولۍ

دکتاب نوم	: دارمانونو ځولۍ
لیکوال	: عوض الدین صدیقی
دخپریدو نیټه	: ۱۳۶۹ -قوس
دچاپ شمیر	: ۵۰۰
کچه	: ۱۲ × ۱۸
مخونه	: ۷۱

«دارمانونو ځولۍ » دځوان لیکوال ښاغلی عوض الدین صدیقی دیوولس (۱۱) لنډو کیسو لومړنۍ مجموعه ده چی پدې وروستیو کی چاپ شوی ده .

دکتاب لومړنی دری مخونه دنومیالی اومنلی لیکوال ښاغلی ننګیال صیب په سریزه ښکلی شوی او بیاله پنځم مخ څخه تراتم مخ پوری د«ارمانونو ځولۍ »دادب په ځولی کي ښکلی غونچه ترسرلیك لاندی په دغه اثراو دلیکوال په فن دمحترم شفیقی صیب خبری راغلی دی او په نهم او لسم مخونو کی د«داکرښی » ترسرلیك لاندی دلیکوال خپلی خبری دی .

دلنډو کیسوددغی مجموعی لومړنۍ کیسه د«ارمانونوځولۍ » او بیاپه ترتیب سره ملکوتی نعره او ملګرتیایی ابدی شوه ، دوینو

په (۵) مخ

طنز
هلو ښاغلی بوش ! ! !

لیك : لاله صحرایي
ژباړه : ابو هارون

ګرانو لوستونکو !

دتکبیر اونیزی په وروستۍ ګڼه کی د«هیلو مستربوش » ترسرلیك لاندی دلاله صحرایی یو ښکلی طنز چاپ شوی چې دامریکا دښکیلاکي سوچونو اوطرحونه په ډیره زړه وړونکی توګه پرده پورته کوي موږيې بیله څه تصرفه بشپړه ژباړه تاسو ته وړاندی کوو . درناوی

:هلو صیب!

:صیب !

:صیب تاسو ته له پاکستان نه تلګرام دی .

: له پاکستان نه ؟ هغه ښاغلی خواوس له دي ځایه ولاړه ، چې ولاړه بیایې سملاسه تلګرامونه پیل کړل . هغي ته ووایه لږانتظاروکړه .

: صیب دتلګرام خاوند کومه میرمن نه ده سړی دی.

: سړی ! ، کوم سړی ؟

: صیب هغه خپل نوم الف پاکستانی ښیی.

:الف پاکستانی ؟ ددی معنی څه ده ؟

: صیب څوځلی می تری وپوښتل هرواربې همدغه نوم ښود .

: هن !

: صیب ! هغه له تاسره دخبرو تاکید کوي .

: هن ، خیر څه خبره ده ؟

: بلی صیب !

له لږشیبی ځند نه وروسته نوی غږ پورته کیږی :

: هیلو !

:هیلو !

: ایا زه دامریکا دجمهوررئیس سره دخبرو ویاړترلاسه کوم ؟!

هوکی ! مهربانی ستاسو نوم ؟

: الف پاکستانی ستاسو سکرتر به درته ښودلی وي کنه!

: هو! ښودلی یې دی خوداڅه ورنوم دی ؟

: نوم څه کوي ښاغلی جمهوررئیس تاسو زما خبره واورئ خبره دکارده .

:ووایه !

: ګوره ښاغلي جمهوررئیسه ! تاسو پر پاکستان پوځی اواقتصادی مرستی بندی کړی دي کنه !

: هومابايد زرترزره داپریکړه کړی وای اواوس ددی مرستو جاری کول ډیر مشکل ....

: ښاغلي جمهوررئیس؟

: نه نه ! نه داپریکړه بیرته نشم بدلولي !

: «لږپه ترخه لهجه » کوم کافر تاته وایې چې داپریکړه بیرته ماته کړه جناب جمهوررئیس !

: نوبیا ته څه غواړی ښاغلی الف پاکستانی ؟

: زه چی څه ویل غواړم هغه به وروسته درته ووایم خواوس زه له تانه ددی پوښتنه کوم چې ستاکومه مجبوری وه چې دهغې په وجه دې پر پاکستان دمرستی بندولو پریکړه وکړه ؟

: مجبوری ؟

: ستابیا هیرشول ښاغلی جمهوررئیس صیب تاهمدااوس پخپله وویل چې ما پر پاکستان دمرستو بندولو پریکړه له مجبوری نه وکړه !

: هوکی !هوکی هغه مجبوری سمه ده !

: په همدغه زه پوهیدل غواړم چی ستا هغه مجبوری ښاغلی سولارزژ که بل څوك ؟

:ولی ز. ښاغلی سولارز زموږډیر قیمتی سړی دی .

: تاربښتیا وویل ، هغه هروخت خپل قیمت اخلی ، په امریکا کی دننه هم اوله امریکا نه بهرهم.

:ګوره ښاغلی الف پاکستانی ! زموږدکوم هیواد وال په باب

((۵ مخ))

هلو ښاغلي بوش ...

دتبصرې هيڅ حق نه لري.
: داهم تاسو خبره وکړه ښاغلي جمهوررئيس ! داسې حق يوازې تاسو ته درکړل شويدی.
: څه مطلب!کوم حق ؟!
: همدغه ! دکوم بل هيواد داوسيدونکي په بابت تبصرې کولو حق .
: هوستا په خبره پوه شوم هغه محترمه بنبي!
: هوصيب ! هغه چې موراوپلاربل نوم وربناندي اينبي او خوستاسو په دفترونو کې يې نوم جمهوريت ليکل شويدی .
: تاربنتيا وويل ؟ دهغه نوم چې پلارهرڅه اينبي وي موربې دجمهوريت دسنبول په نوم پيژنو.
: بنايي چې ساغلي سولارزيه په همدې خاطر مورته يوځل اخطارونه راکول چې که ددغه جمهوريت نومې محترمې پرخلاف څه قدم پورته شو نوپاکستاني پوځيان به دربنوخورلوته مجبورشي .
: اواوس همغه وخت په تاسو راغلی !
: تاسو ته بايد بنکاره وي ښاغلي جمهوررئيس چې زموږحيدرې ځواك دروتې دووی په وجه دی نه دزير پلاونه ،
: زه پوه نه شوم !
:اوس دې پوهوم ، ګوره ! په دې خوبنه خبر يې چې افغاني مسلمانانو دروس سترزبرځواك له نيمې پيړۍ بريالتيوبونو وروسته مات کړ.
: بنه صحيح ده !
:نوبيا په دې هم بايد وپوهيږې روس ته هغو افغاني غازيانو دغه ستره تاريخي ماته ورکړه چې پاتې اووابنه يې خوړل نه داچې ستاسواوستاسو غوندې شتمنو هيوادو په څير پوځيانو چې کوچ اومرياوې يې خوراك وي.
: «چوپتيا»
: اوس بايد داهم درته څرګنده شي چې ددښمن ترتيرې لاندې لوږې ، تندې دمسلمانانو دجهاد مينه اوجذبه لاتوپاني کوی ، کله چې دمرګ ويره له کسوم بدن نه لری شي نوزموږ ديوه شاعر په قول هغه ته دمحمد (ص) دانقلاب روح ننوزي چې بيا دهغې مقابلې ته ددنيا ترستره نه سترځواك هم تيکه نشي کولی .
:تاسو مسلمانانو خيالي خبرې ډيرې کوې.
:-هوښاغلي جمهوررئيس ! مسلمان مجاهد چې دجنت په خيال دجګړې په ډګر ورننوزي نوددې دنيا په سراب کې سرګردانه له سترو نه ستر ځواك نه لاره ګودروکوی ، لکه همدااوس دافغانستان ګياليو مسلمانانو همدغه کارنامه ترسره کړه.
:ګوره صيب ! دافغانستان خبره نوره مه يادوه ، ته دپاکستان خبره کوه اودجهاد مينه له زړه نه وباسی ، ستاسو ګاونډی هيواد هندله تاسو نه لوی هم دی اوځواکمن هم ، ستاسو بنيګڼه په دې کې ده چې دهغه لوبې ومنې .
: داتاسومورته مشوره راکوی که امرکوی؟
:دسياست په ژبه مشوره اودمرستې په حواله حکم .
: ښاغلي جمهوررئيس صيب ! دنړۍ دوهم اوستاسو پخواني رقيب زبرځواك روس له راپرزيدو نه وروسته لکه چې تاسو دنړۍ ديوازيني مالك اوحاکم تصورکوی ؟
:په دې کې بستاسو څه شك پاتې دی ؟
: نه ماته په دې باب هيڅ شك نشته چې ستاسو په څير ځان ته په لوبې قايل هيوادونه تل ددروغو لاپې اودعوې کوي !
:دڅه شي دعوې؟
: همدغه دځان غټ بنودلودعوې ،جمهوريت اونورودازادۍ داحترام دعوې ، دژوند دلوړواقدارو دحمايې دعوې اولاپې !
: دادعوې نه دي حقيقتونه دي
:«کرس کرس خندا » هوصيب ! ددغو حقايقو رينبتنولی له پوليند ، چکوسلواکيا اوافغانستان پرته په فاك ليند اوپانامه کې هم بنې څرګندې شوې .
:ګوره ښاغلي الف پاکستاني ! زه نن سبا دخليج په لانجه کې ډير مصروف يم تاسو له خبرې نه خبره مه راوباسی اوخبرې مه اوږدوی دخپل تلګرام اصل مطلب ووايی !
:زما دتلګرام اصل هدف دادی ښاغلي جمهوررئيس صيب تاسو چې پر پاکستان کومې مرستې بندې کړې دي ...
:بيا همغه دمرستې بندولو خبره !
:زماټوله خبره داوره ،ښاغلي جمهوررئيس ، زه داويل غواړم اوپه زوره يې وايم ، چې تاسو دمرستو دبندولو پرپريکړه کلك عمل وکړی اودغه مرستې هيڅکله هم بيا پيل نه کړی .
:تاسو دخپل اصلي مطلب پرځای بيا طنزونه وايې .
:نه ښاغلي جمهوررئيس !دطنزپرځای زه داخبره جدي کوم چې تاسو دخدای ج په خاطر پرموږدتل لپاره مرستې بندې کړې دتل لپاره ،
:واه واه داولې ؟
: داځکه چې تاسو موږ په خپلو مرستو زموږ پرمختګ اوپه خپلو پښو دروانډې تګ لارې ترلې وې اوس به موږ په خپلو مزل ته اړشو اوستاسو له امسا نه به خلاص شو .
:هن !
:ښاغلي جمهوررئيس ! تاسو دخپلې مرستې کوچ اوغوړې له ځانه سره وساتې ترڅو موږ په خپلو وښو اوساښو دپانيدلو پخوانې عادت بيرته خپل کړو ، ترڅو دافغاني مجاهدينو په شان دمحمد (ص) په څير په خپلو خيټو پورې ډبرې وتړو اودخپلې عقيدې پرپخوانې دښمن ګاونډي هند دتکبر په شعارونو برغل وړلای شو ، اودهغه پر بدمست خرطوم يو پر بل پسې مرګونې ګوزارونه وکړو .
:بيځايه خبرې دی .
:دابيځايه خبرې نه دی ښاغلي جمهوررئيس دازموږ دمرګ اوژوند مسئله ده .
:ګوره ښاغلي الف پاکستاني تاسوهند هيڅکله نه شی لاندې کولی داسې هيڅکله هم نشي کيدای.
:اوس به داسې کيږي ښاغلي جمهوررئيس ! اوس په دنيا کې هرځای مسلمانانو ته له خپل پخوانې دښمن يهودو اودهغه له اندېوالانو سره دتودې جګړې شيبې رارسيدلې ، دلته دمسلمانانو دسردارانو مولا مخبرصادق عليه سلام دا ارشاد دی چې :
قيامت ته نږدې به دمسلمانانو اويهودو ترمنځ دجګړې دګرتودښې نويهوديان به دمسلمانانو دتوپانې برغلونو په وړاندې تاب رانه وړی اودلته هلته به وتښتي اوپټ به شي ځنې به دونو ترتنو لاندې پټ وي اوځنې به دګرنګونو په سوريو کې اوستاد رياست ترربنو لاندې هم يويهودي پټ دی ښاغلي بش !

دآرمانونو خولی ...

بدرګه ،دهيلو خوکې ،غوټه ،که دغزا په دروخوړی ،غمونکې نغمه ،سوغات او کوکه راغلې دی.زه دلته دښاغلي ليکوال دافسانو پرفنی اړخ څه نه وايم .
خو ترکومه چې خبره په لفظی او معنوی اړخ پورې اړه لری دمحترم ليکوال په افسانوکی زموږ دمجاهد ملت دجهاد دسنګرونو او دهجرت دچاپيريال ډيره بنه عکاسي شوې ده او لکه چې ليکوال پرکتاب دخپلی سريزې په يوې برخه کې ليکي : «... هغه څه چې په دې مجموعه کی دلنډو کيسو ترعنوان لاندې راغلی ، يامې پخپله ليدلي او يامې اوريدلي ،هغه چې مې په سترګو ليدلي او په غوږونو اوريدلي داسې تراژيدی او غمونکي وو چې زما زړه يې تپی کړی او دزړه درد دې ته مجبور کړی يم چې خپل درد دقلم په څوکه بيان کړم .»
رښتيا هم کله چې دجهاد سنګرونو ته تللی اوهلته يې دمجاهدينو داتلوال مقاومت وياړلی کارنامې ليدلی اوياپې له نورواوريدلی دی اوکه دهجرت په چاپيريال کې يې دخپلو مهاجرينو ورونو دستونزو ژوند اوبنبوغمونکې صحنې ترسترګو شوی اوکله يې دمزدوررژيم په زندان کې دناخوالو ليدلو اوريدلو حالاتو اوخاطرو ياد احساسات رالږزولی هغه يې دلنډو افسانو په بڼه په الفاظو کې داسې انځور کړی چې لوستونکی يې دلوستلو پر وخت داسې انګيری چې ګوندې داټولی صحنې دسريه سترګو دسينما په پرده ګوری .
په دغو ليکنو کی چې ليکوال کومه سوچه خوږه اوبسته ژبه کارولی هغه هم دزياتې ستاينې وړده ، دسيمه ايزو عاميانه اصطلاحاتو اومحاوروااستعمال لوستونکي بيا بيا لوستنې ته هڅوی.
منظرکشی په افسانه کې مهمه ځانګړنه ده اوترکومه چې مادې مجموعی دځينو افسانو له لوستنې څخه احساس کړه ليکوال په دې کارکې ترډيره حده بريالی دی دبيلګې په توګه کومه منظرکشی چې ليکوال د«غوټه » په افسانه کې کړې ده زموږدمعاصر پښتو اودری ادب ډيرې کمې افسانې ورسره سيالې کولی شي .
په پای کې زه په داسې حال کې چې دمحترم صديقي صاحب دلنډو کيسو دغه مجموعه دجهادی ادب په ارزښتناکه پانګه کې يوه ګټوره اضافه بولم دادب مينه والو ته يې دلوستلو ته رابولم،ليکوال ته يې دچاپ اوخپرونې مبارکی وايم اوپه دغه برخه کې ورته دلا بريالیتوب هيله کوم.والسلام

افغانستان بشابه مکتبی که ...

ووطنپرستی می زدند وغوغای پاکسازی کشورومنطقه ازارتجاع رابرپا کرده بودند وبمانند اينها هذيان ديگرنيز می بافتند . انها تلاش ميورزيدند بخود وديگران قناعت بدهند که گويا افغانستان،نوجوانان ، گهواره کمونيزم راابديده مي سازدوعقايد شانرا پخته،به شجاعت ودليری شان می افزايد، (ارتيم بورويك) دراخير مينويسد شايد افغانستان عقايد وافکارمردم راابديده ساخته باشد اما ان عقيده راابديده نساخت که رهبران روسيه ارزوی انراداشتند .
بايد علاوه گردد که افغانستان به مدرسه مبدل شد که به روسها شجاعت رادرس داد وافغانستان بگورستانی مبدل شد که ارمانهای پليدهيولای بدسرشت کمونيزم دران بخاک سپرده شد .

درشید دوستم «گلم جم» په باب څوخبرې

په افغانستان کې دهوتك میرویس خان دخپلواك اوبرمیال دولت دجوړیدو څخه پخوا افغاني خاوره ددریو خواو څخه ترښکیلاك لاندې راغلې وه . دختیځ لخوا دهندي بابریانو په واسطه اشغال شوې وه اوکابل یې دپسرلني استراحت ځای په ډول ټاکلی ؤ دکابل «بابرښ» چې دگذرگاه اوچهل ستون په ساحه کې پروت دی په کابل کې دبابریانو دتمدن یوه بیلگه ده .

په دې مرحله کی دافغانستان غربي برخې دایراني صفویانو ترتسلط اواقتدارلاندې راغلې وې په داسې حال کې چې په همدغه زمانه کې په منځنۍ آسیا کې چې اوس دروسانو تراستعمارلاندې سیمه ده د«ازبکیا» په نوم یومقتدردولت جوړشوی ؤ .

هغوی به که په پوځ کې کوم افسر درلود نوبابه ترومچي ؤ اویا دآشپزخانې مسوول اوعسکر به یې هم یاد افسرانو خدمتگاران ؤ اویاخو یې نورې دخشره کارۍ په نوم چارې پرې سرته رسولې . ددغو مسلمانو اوغیرتي ملتونو دشجاعت اوزړورتیا روحیه یې ترډیرفشاراوتهدید لاندې راوستلې وه اودعالي رتبه مامورینو لخوا په ورته دکلا خام یا خام کلا خطاب کیده . نوځکه یې دنورومليتونو په مقابل کې دعقدو ، بدبینۍ اوانتقام اخستلو له روحیې څخه ډك کړل .

دروسانوپه دستوردپرچم ډلې په خپلو منځو کې په پټه داړیکوقایمولو ته دوام ورکړاویوشمیر پرچمیانو ته دستورورکړل شو چې دمجاهدینو په صفونو کې ځای ونیسي نودهغې جملې څخه «رشیددوستم» هم ؤ . پر افغانستان باندې دروسانو دمستقیم تیري څخه وروسته دخپلې څوکسیزې ډلې سره روسانو ته راستون اوتسلیم شو .

ازبکان دافغانستان دکورنیو شخړو اوارډدوڅخه په گټه اخستلو سره دآموله سیند څخه راپورې وتل اودافغانستان شمالي برخې یې اشغال کړې اماکله چې دمیرویس خان په لاربښوونه دافغانستان شمالي برخې دبهرني تجاوزاواشغال څخه آزادې شوې نویوشمیر هغه ازبکان اوترکمنان چې دافغانانو سره یې دوستي اوخپلوي کړې وې په نوموړوسیمو کې پاتې شول (جوزجان ، فارياب ، مزارشریف ، سمنگان) اودافغانانو جزوگرځیدل اوپه کرهڼه ، مالدارۍ ، لاسي صنعت اوتجارت یې پیل وکړ .

دافغانستان دغه مسلمان اوزحمتکش ملیتونه دهزاره گانو په څیر دوخت دقدرتمندانو لخوا ترستم اوفشارلاندې ؤ اوپه دولتي چارو کې یې مناسبه برخه نه وه ورکړې اوپه دې آخرو کې یې هم (دظاهرداؤد دقدرت په وخت کې) دستم اوکړاو لاندې ژوند تیراوه .

په ۱۳۵۸هـ ش کال کې افغانستان دروسي کمونستي استعمارله خواپه مستقیم ډول سره دنظامي قوتونو په واسطه اشغال شو او «کارمل» یې د«شاه شجاع» په شان دکابل په تخت کیناوه خوله شاه شجاع سره یې توپیر په دې کې ؤ چې شاه شجاع دجنوب له خوا په انگلیسي آس باندې دانگلیسانو په منځ کې دناوې په بڼه افغاني خاورې ته راوستل شو اما «کارمل» دروسانو په منځ کې دشمال له خوا دناوې په څیر په روسي ټانك راسپورکړی شوی ؤ . نوروسانو پرافغانستان باندې ددایمي تسلط اوپه روسي امپراطورۍ پورې دافغاني خاورې دتړلو په منظوریې هرې بدې اوغیر انساني وسیلې څخه دکاراخیستلو څخه ډډه ونکړه اودنورواستعماري تاکتیکونو سره یوځای یې دمختلفو ملیتونو ترمنځ دبې اتفاقۍ اودښمنۍ تخم په شندلو پیل وکړ .

روسانو د«تره کي» خصوصاً «امین» کمونستي استبداد دپښتني فاشیزم په نوم ونومولواوغیر پښتني ملیتونو ته یې داپه گوته کړل چې گنې روسان ددغو مظلومومليتونو دحقوقو څخه دپښتني .فاشیزم په مقابل کې دفاع کوي اویو شمیر گوندي اودولتي چوکۍ اومقامونه یې هم ورته ورکړل چې په تیروختو کې یې په رښتیا هم چې په خوب کې هم نه ؤ لیدلي اوپښتنو ته یې داسې ښودله چې که چیرې دروسانو کامل اوپوره اطاعت ونکړي نودنورومليتونو په واسطه سره ددوی ترفشارلاندې راوړلو امکانات پوره تیارشو یدي خوپه عمومي ډول سره دافغانستان دټولو ملیتونو اوولس لپاره دملیتي کینو اوبدبینیو په پرتله داسلامي اودوطن دخپلواکۍ جذبه اوچته وه . نوځکه روسان پخپل کرغیړن پلان کې ناکام پاتې شول .

اوس به رشیددوستم اودده نظامي قوې ته چې دگلم جم په نوم یې هم شهرت پیداکړی محفلنده نظرواچوو . خوداباید په ټینگه سره وویل شي چې دگلم جم څخه مطلب دازبکواوترکمنو هغه مسلمان اوپر خپل وطن (افغانستان) مین مجاهدین نه دي کوم چې دروسي کمونستي استعماراوددوی دمزدورانو پرضد یې جهادپیل کړی دی دغه غیرتي ملیتونه داسلام اووطن څخه په دفاع کولو کې دبل هیڅ ملیت څخه کم نه دی اوهمدارنگه دکابل په مزدوررژیم کې دافغانستان دټولو ملیتونو خچکي اوفاسد افراد سره راټول شویدي . په همدې ترتیب دگلم جم دوحشت اوظلم بیان دروسانواودروسانو

دمزدوررژیم دجنایاتواوځناورتوب دیوې څنډې اوبرخې ښرگندونه کوي.

درشید دوستم نوم «رشید» اوتخلص یې «دوستم» دی . نوموړی دجوزجان ولایت اوسیدونکی ، ملیت یې ازبك دی داجنایت کاربې سواده اودنطق قوه یې خورا ضعیفه ده . پخوا دې چې دروسانودمزدوراوغلام شهرت پیداکړي دخپلې منطقې په خلکوکې یې دقمارباز، چرسي ،شراب خور،داخلاقي ضعف لرونکی اوچاقو کش په نوم شهرت درلود .

کله چې په ۱۳۵۷هـ ش کال کې دغوايي له کودتا څخه وروسته دخلق اوپرچم ډلو ترمنځ دچوکیو اوروسانو ته دښه خدمت کولورقابت آخرې پولې ته ورسید نو دخلق ډلې په واسطه دپرچم ډله مغلوبه شوه ،اما دروسانوپه دستوردپرچم ډلې په خپلو منځو کې په پټه داړیکوقایمولو ته دوام ورکړاویو شمیر پرچمیانوته دستورورکړل شوچې دمجاهدینوپه صفونوکې ځای ونیسي نودهغې جملې څخه «رشیددوستم» هم ؤ چې پر افغانستان باندې دروسانو

ددغو بې شعوره ځوانانو لپاره دروسانو اودهغوی لاسپوڅې رژیم تعین شوې مکافات اومعاش ځکه کفایت اوبس والی نکوي چې هغوی افراطي قماربازان ، چرسیان ، شراب خواره ، اوسخت بدعمله اوبداخلاقه دي .

دمستقیم تیري څخه وروسته دخپلې څوکسیزې ډلې سره روسانوته راستون اوتسلیم شو. دهمدې وخته راپه دې خوا بیا ترنن پورې درشیددوستم اړونده قوا چې دگلم جم په نوم یې شهرت پیداکړی دروسانو له خوا لکه دروسي عسکرو په شان استعمالیږي اوددوی په اړونده مهمواموروکې بل چاته موقع نه ورکول کیږي .

په ۱۳۶۵ هـ ش کال کې دغې مزدورې قوې دکنډك په سویه تشکیل درلود اودروسانوله خوا «رشیددوستم» ته دده دتشویق اولا تابع کیدوپخاطر دعسکري جگړنۍ رتبه اود«اتلۍ» لقب ورکړل شو اوپه دې وروستیو کې دجنرالۍ رتبه ورته منظوره شوه .

په ۱۳٦٥هـ ش کال کې دکندهارپه ښاربانديې دمجاهدینوپرغلونه گرندي

باید په ټینگه سره وویل شي چې دگلم جم څخه مطلب دازبکو اوترکمنو هغه مسلمان اوپر خپل وطن افغانستان مین مجاهدین ندي کوم چې دروس کمونستي استعماراوددوی دمزدورانو پر ضد یې جهاد پیل کړی دی.

اوډیرشدت یې پیداکړ.نونوموړي مزدورکنډك ته امرورکړل شو چې دکندهاردمسلمانواوتوریالیو اوسیدونکو دوینو په تویولو کې له هیڅ ډول وحشت څخه ډډه ونکړی له همدې وخت څخه راپه دې خوا دگلم جم نوم خپریدل پیل شول هغه داسې چې:

دکندهارښارجنوب اوجنوب غرب په «محله جاتو» نومې سیمه کې دمجاهدینو جهادي سیلاب په هومره زوراوقوت سره روان ؤ چې هیڅ کفري اواستعماري طاقت یې دمخ نیوي قدرت نه درلود نوپه دې وخت کې درشید دوستم عسکرو ته امروشو چې خپل وحشت بیا تکرارکړي ،خوکله چې دمجاهدینو داسلامي اووطني جذبې سره مخامخ شول نوډیرکم شمیرې په ټیښتو اومنډو دښارمنځ ته ژوندي خلاص شول اودغو دکوټې دکونج زمریانو خپله وسله دروسانو دمزدوررژیم ترتسلط لاندې سیمه کې وچلوله اوله یوه سره یې قرارگاه ته په ورڅیرمه کورونو کې واړه،زاړه ښځې اوکورني حیوانات په کلاشینکوفونو سورې سورې کړل . کورونو اودوکانونو ته یې اوروراواچاوه چې ترننه پورې دکندهارښارجنوبي برخه دوحشت اوبربریت دسترې تراژیدۍ څرگندونه کوي .

نونه یوازې دلته بلکې دافغانستان په هره سیمه کې یې چې لاس برشوی دچنگیزخان په څیرې دژوند اوتمدن نښانې ورکې کړي دي چې په فارسي ژبه کې ورته گلم جم وایي په دې معنی چې دژوند اوتمدن تغر یې ورټول کړی دی .

نوموړې قوا چې ددولتي امنیت وزارت په خاص گارد پورې تړلې ده ددوی دوحشي اوغیرانساني کړوړو په وجه نوره هم پراخه اوتشکیل یې دفرقې سویې ته لوړشو.

سره ددې چې نوموړې قوې ته (دغې مزدورې قوې ته څوك گلم جم وایي اما بعضې بهرني خپروني یې دجوزجاني ملیشې په نوم یادوي اویوشمیرخلك ورته ددوستم ډله وایي اوبعضې ورته نورنومونه اخلي) دروسانو اودهغوی دلاسکینولي رژیم له خوا زیات امکانات هم ورکول کیږي اومعاشونه یې دنورونظامیانوپه پرتله زیات دي ، اما دمزدوررژیم نورنظامي قطعات اوجزتامونه دافغانانو په وژلو اوبې ستره کولو کې دگلم جم سره سیالي کوي .

ددغو بې شعوره ځوانانو لپاره دروسانو اودهغوی لاسپوڅې رژیم تعین شوي مکافات اومعاش ځکه کفایت اوبس والی نه کوي چې هغوی افراطي قماربازان ، چرسیان ، شراب خواره اوسخت بدعمله اوبداخلاقه دي ، ددوی پر چوراوچپاول اودنوروخلکو په ناموس باندې لوبوکولو باندې ټوله نړۍ خبره ده اواصلاً هیڅ داسې قدرت اومقام نشته چې دکابل مزدوررژیم ترتسلط لاندې ښارگوټو کې ددوی دوحشت اوبې ناموسۍ څخه مخ نیوی وکړي

نوربیا

خلیج دیوه خوفناك اورتون پر ...

دهغه پرځای وتومبله .

اوس که داټول شواهد گوروآیا ممکنه ده چې څوك دي دامنطق ومنلای شی چې امریکا خلیج ددې لپاره دخپلو قواوو په اډویدل کړچې غواړی دتیری مقابله وکړی اوکویټ ته یی خپلواکی وگتی ؟ موږباورلرو چی هیڅوك په پورتنیو خبرو یقین نشی کولای .

امریکا دکویټ داستقلال په پلمه په خلیج کی جگړه پیلوی اوبیخی څرگنده ده چی دابه یوه تباه کوونکی اوویروونکی جگړه وی هغه چی محکه به لړزوی ، غرونه به سوځوی ، دانسانانو دمړو به ډیری جوړوی اودهیبت اووحشت یو روانسوزمحشر به جوړوی .

امریکایان پدی ښه پوهیږی چی لدی امله چی جگړه دمسلمان په کورکی نښلی ، دمسلمان وینی به پکی توئیږی ، دمسلمان شتمنیو به پکی بربادیږی اودمسلمان کوربه پکی خاوری کیږی.

اوس وضعه په بشپړه توگه دجگړی په لوری روانه ده که څه هم دجگړی دمخنیوی احتمالات هم یومخ نشی نفی کیدای مگرداسی معلومیږی چی امریکا غواړی جگړه پیل شی .

ځنی مبصرین پدی نظردی چی شاید پدی ورځو کی چی هغی نیټی ته چی دملگروملتوله کویټ څخه دعراق پوځ دوتو لپاره ټاکل شوی ، عراقی قیادت ددی زمینه سازی وکړی چی له کویټ نه ووځی ، پدی ښه چی په بغداد کی به جوړیدونکی اسلامی غونډه داسی پریکړه وکړی چی پکی دعراق مسئولینو ته ددی مشوره ورکړه شوی وی چی کویټ پریږدی ددی په تعقیب به په عراق کی په همدی مشوره باندی دعمل کولو لپاره مظاهری وشی اوپدی ډول به عراق له کویټه ووځی .

داخبره له امکانه وتلی نده خوڅومسئلی بی شکمنوی ،لومړی داچی که عراق پدی ډیرباوری وی اودومره زورلری چی امریکا اومتحدین یی ژراوپریکنده بری ته ورنه رسیږدی اوکولای شی امریکا له شدیدمقاومت اواوږدی جگړی سره مخامخ کړی پدی صورت کی له کویټ نه دعراق دوتو احتمال کمزوری کیږی .

دوهم داچی که عراق دی نتیجی ته رسیدلی وی چی امریکا تصمیم لری په هرصورت اوهرحالت کی چی وی دعراق نظامی ځواك مات کړی اوله کویټه وتل دقضیی اوبحران ماهیت نه بدلوی شاید په دی صورت کی هم له کویټه وتو ته چمتو نشی - ځکه که داکاروکړی په دی څومیاشتو کی یی چی دپوځی نقل اوانتقالاتو اوځای پرځای کیدو کوم کارشوی هغه به ټول گډو ډیږی اودجگړی اومقابلی تاکتیکی نقشی اوموقعیتونه به بدلون مومی اودابه ورته لویه نظامی نیمگړتیا جوړوی .

خوپدی حالت کی دعراق لویه سیاسی اواخلاقی گټه داده چی که له کویټ نه دعراق دوتو دتصمیم له اعلان سره سره امریکا بیا هم جگړه پیلوی ،دعراق موضع اوموقعیت به له ښه مشروعیت اوحقانیت نه برخمن وی داسلامی نړی بلااستثنا مرسته اوملاتړ به ورسره وی په نړیواله سطحه به دنارواتوب اوغیر قانونیت له تاپی خلاص وی اوعربی ملتونه به یی ټول ترشا دریږی .

دامریکا پانو له وضعی اوڅرگندونو معلومیږی چی هغوی غواړی داچانس له لاسه ورنکړی چی عراق دیوه اشغالگرپه موقعیت کی دی ، دملگروملتو پریکړی دامریکادسیاستونو اواهدافو په گټه دی څه عربی هیوادونه یا په زوریا په رضا ورسره ولاړدی ټول لویدیځ ورسره په یوه آوازدی ، عراق په سیاسی اقتصادی انزواکی دی دلهغه فرصت دی چی امریکا کولای شی له هغه نه په استفادی دعراق لوی اومؤثر پوځی طاقت مات کړی اوپه خلیج اوعربی نړی کی دخپلی سوبی بیرغ وږپوی .

سردي هواوتوفان برف موجب مرگ بیش ...

گزارش حاکیست که درجمله هلاك شده گان هشت طفل نیز شامل میباشد که دردوکمپ مهاجرین درشهرکویته ایالت بلوچستان هلاك شده اند میزان درجه حرارت دراین ناحیه به منفی پانزده درجه تنزیل یافته بود .

براساس همین خبر سی دو تن افغان که ازولایت هلمند عازم پاکستان بودند درطول راه دراثربرودت هوا هلاك شده اند اژانس افزوده است که شش تن دیگرنیز هنگامی به اثر برودت هوا هلاك شدند که ازولایت قندهارروانه پاکستان بودند.

طبق یك خبر دیگر یك نطاق حکومت پاکستان گفته است که بیش ازدوصدوهشتاد تن ازمجاهدین ومهاجزین درمناطق مرزی افغانستان وپاکستان دچاریك توفان برف گشته ناپدید شده اند .

نطاق گفته است که ازین جمله صرف چهل مجاهد به پاکستان واردشده اما ازدیگران اطلاعی دردست نیست .

که عراق خپل پوځونه ونه باسي ...

څخه خپل پوځونه وباسی که نه داکاربه ډیرخطرناك عواقب ولري .

له راډیو څخه په یوخپورشوی پیغام کی بش ویلی دي چې دجنوری پنځلسمه نیټه له کویټ څخه دپوځونو ایستلو لپاره دصدام حسین لپاره ټاکل شوی نیټه ده خودانیټه زموږدپوځونو لپاره نه ده .

بش ویلی دي چې عراق باید له کویټ نه خپل پوځونه وباسی که نه داکاربه دیوسترخطرلپاره دچمتووالی معنی ولري .

بش ویلی چې په ۱۹۹۱ کال کی به عراقی پوځونه حتماً له کویټ څخه وځی خوښه داده چی داکارهغوی پخپله خوښه وکړی اوکه ضرورت پیښ شی نوموړبه ددې کارلپاره زیات قوت په کارواچوو .

نوموړی امریکایانو ته ویلی چې په خلیج کی دموجودو پنځه لکه پوځیانو روحیه لوړه ده اوپه پوره همت به خپل هودسرته ورسوی .

دري تنه فلسطینیان ...

دهغی لہ امله دری تنه فلسطینی مجاهدین شهیدان اوپنځه تنه ټپیان شول په نوی کال کی دادوهم ځل دی چې داسرائیلو جنگی الوتکی پر فلسطینی مجاهدینو حمله کوي .

دیوبل خبر له مخی داسرائیلو ترتسلط لاندی سیمو کې دفلسطینی مجاهدینو اواسرائیلی پوځیانو ترمنځ په نښتو کې یو فلسطینی مجاهد چې شهید شوی دی .

خبرونه وایی چې داسرائیلی پوځیانو قوماندان ډگرجنرال یوسی پلد ویلی دې چې دفلسطینی مجاهدینو یوه ډله اردن ته ورننوته اوپه ناڅاپی توگه یی پر اسرائیلی پوځیانو ډزی شروع کړی په اردن کې اسرائیلی سیمو ته دفلسطینی مجاهدینو دورننوتو څخه وروسته اسرائیلو داردن سره په خپل سرحد کی حفاظتی اقدامات سخت کړی دي .

اوپدی سیمه دمستقیمی واکمنی له لاری داسلام دراڅوندی کیدواواسلامی حرکتونو دپرمختلون دخطری مخه ونیسی اویو ځل بیا دیوی اوږدی مودی لپاره اسلامی نړی دبیا راپورته کیدو دمه اوفرصت ترلاسه نکړی خدای (ج) دی په خپل غیبی قوت دامریکا ددی ظالمانه نیت دشنډولو هیله له خاوروسره خاوری کړی .

که په خلیج کی جگړه ونښلي ...

ساینس پوهانو دجدی په ۱۲ نیټه په لندن کی دیو کنفرانس په ترځ کی څرگنده کړه چې که په خلیج کې جنگ ونښلي نودابه خلیج ته نږدی هیوادونو ته دومره لویه ناوړه پیښه وي چی ساری به نه لري .

داردن دپاچا حسین ساینسی مشر ډاکترفخرالله (توگان) اندازه لگولی چې که دخلیج دتیلو ذخیرو اورواخیست نودمحیط تودوالی به دخپلي مودي نه دیرش کاله زیات شی

یوبل ساینس مشر ډاکتر جان-کاك ویلی د ي چې دنړی موسم کې به دومره بدلون راشی چې یوسل ملیونه خلك به دلوږی دلاسه مړه شي .

دسومالیې په لس ورځنی جگړه کې په سوونو تنه وژل شوي اوپه زرگونو تنه زخمیان دي

دنړیوالو خبری سرچینو له قوله ویل شویدی چی دسومالیی په پایتخت موگادیشو کی دحکومت دمخالفینو اوحکومتی پوځیانو ترمنځ په ښاربانذی دکنترول دلاسته راوړلو لپاره سختی نښتنی روانی دی اودجمهوررئیس سعید باری د۲۱کلنی دوری دختمولو لپاره هلی ځلی پیل شویدی پدی نښتو کی تراوسه پوری په سوونو تنه وژل شوی اوپه زرگونو تنه ټپیان شویدی. دسومالیی جمهوررئیس دجدی په ۱۲نیټه دراډیو له لیاری داوربند غوښتنه وکړه؛ خودمخالفینوله خوا ردشویده

خبرزیاتوي چې : امریکایی مقاماتو ټولو امریکائیانو ته امرکړیدی څو دسومالیی له پایتخت څخه ووځی او ایتالیی د (۵۰۰) تنو خارجیانو دایستلو لپاره دوې ترانسپورتی الوتکی دگاونډی هیواد کینیاله پایتخت نایروبی څخه لیږلی دی .

دسومالیی دمتحد کانگرس یاغیانو دجدی په ۱٤ نیټه څرگنده کړه چی دوی به پدی شرط خارجیانو ته دوتلواجازه ورکوی ،چی دغه کار دبین المللی سره صلیب اداره په غاړه واخلی .

حفیظ الله امین چگونه ...

حفیظ الله امین نیزمانند دیگران مدهوش وبیهوش افتاده بود هنگامیکه دوکتوران سفارت روس معده اوراشستشو کردند اوپرسید که چرا چنین شده؟چی کسی مرتکب این عمل بود؟تمام مهانان به هوش امدند وبه منازل شان برگشتند .

کلانوف نوشته است : امین هنوزنااگاه ازین بود که حادثه بزرگتردرشرف وقوع بود ساعت هفت وسی دقیقه شام که هوا تاریك شده بود چندانفجارعمارت راتکان داد اتش سلاح انقدرشدید بود که فکر نمی شد یك دهشت افگنی صرف بوده باشد باشنیدن صداها حفیظ الله سر ازبالین برداشته تفنگ اتوماتیك خویشرا خواست اما خانمش گفت که ایا میخواهد روسها رابکشد ؟ درین حوالی پارچه بم منفلقه به تن امین اصابت نموده اورابسوی دیگر اطاق پرتاب نمود بعد ازیکی دودقیقه مردمسلح که لباس عسکری افغانی به تن داشت داخل اطاق گردیده بالای جسد امین استاد . شخص مذکورجسد امین را که جان داده وبروی افتاده بود به پشت انداخته عکسی رابیرون اورده بعد ازاطمینان ازشخص مطلوب بودن جسد حفیظ الله امین راازفاصله کم هدف چند گلوله قرارداد .

داتحاد په لوریوبل گام ...

حکومت په نامه وي اوکه دپردیو څواکونو له اجیروعناصر وسره دگډې شورا دجوړولو په بڼه وي اوکه یا هم دهغه دبین المللي کنفرانس تړاوړی ایښودل کیږي چې په هغه کې به گنې دنجیب مزدوررژیم اومجاهدین برخه اخلي - لدې پرته داسې هره طرحه چې دپردیو له خوا وړاندې کیږي اوداڤغانستان په کورنیو چاروکې دلاسوهنې معنا ولري په کلکه تردید کړی شوی .

په اعلامیه کې داهم په ډاگه شوې چې جهادي قیادتونه باید ژرترژره اوپه لنډ فرصت کې په یوه دوامداراوکلي اتحاد کې راغونډ شي،بل داهمیت وړتکی چې په اعلامیه کې څرگندشوی هغه داحزابو له دېر ښت سره مبارزه ده چې همدا تعدد دمقاومت اومجاهدینو ترمنځ دنفاق اواختلاف وسیله گرځیدلې لدې څخه څرگندیږي چې په افغاني جامعه اومقاومت کې دواړه ذیدخل اومؤثر توکی دپیښو اومسایلو په رابطه گډ تصمیم اومتحد موقف لري اویله دا چې داحرکت هیڅکله هم دتحزب رنگ نلري اویلکې ددې برخلاف داحزابو دیووالي غوښتونکي دي .تراوسه زیاتره اصلاحي حرکتونه یا خود کوم گوند په لمن کې لویدلي اویا یې هم دکوم ځانگړي حرکت اوجریان بڼه غوره کړې،خودجهاد قوماندانانو اوعلماوو په رسمي اعلامیه ددې ټکي څرگندونه کوي چې ددوی حرکت نه خودکوم ځانگړي سازمان اوجریان بڼه لري اونه به هم په راتلونکې کې داسې شکل غوره کړي بلکې ددغه حرکت ستر هدف دجهادي قوتونو اوقیادتونو اتحاد اویووالی اودشرق اوغرب ددسیسو اوتوطئو مقابله ده چې داحزابو دډېرښت اوتعدد نه په استفادې سره غواړي هغه عملي کړي .

په هغه غونډه کې چې دقوماندانانو اوعلماوو له خوا درسمي اعلامیې دخپراوي په اړه جوړشوی وه ــ محترم الحاج مولوي جلال الدین حقاني وویل : هغه سازشونه چې دکافرانو اودجهاد دښمنانو له خوا زموږ په ملت تپل کیږي هغه‌زموږولس ته دمنلو وړندی .

حقاني صاحب زیاته کړه : موږددښمنانو ټولې ناپاکې هیلې اودسیسې دجهاد له لارې له منځه وړلی شو،په ریښتیا هم پدې وروستیوکې دشرق اوغرب گډو اواستعماري سازشونو داسې ناوړه بڼه غوره کړې وه چې دانقلاب دبري اواصالت په لارکې یې ډېر خطرناک گواښونه رامنځته کړي ؤ .

داهغه رښاغړاوانقلابي دریځ دی چې داسلام ددښمنانو ټولې توطئې اومانورې له منځه وړلی شي اوزموږیقین دی چې که دادول انقلابي مثبتو حرکتو ملاتړوشي نودښمن به لکه څنگه چې دوسله وال جنگ په ډگر کې له شرمیدلي ماتې سره مخامخ شوی همداسې به دتوطئو،دسیسو اومانوروپه کمین کې هم له رسوایي سره مخامخ کیږي،انشاءالله

په نیول شوي کشمیر کې تر۵۰ زروزیات هندي پوځیان وژل شوي دي

نوای وقت دجنوري ۷:

له آزاد کشمیر څخه په یوخپورشوي خبرکې ویل شوي دي چې په نیول شوي کشمیر کې تراوسه پورې پنځوس زره هندي پوځیان له آزادي غوښتونکوسره دبیلا بیلو جگړو په ترڅ کې وژل شوي اوترډیرش زره زیات دآزادي غوښتونکو دبریالیو عملیاتو په نتیجه کې دوبرې له امله له نیول شوي کشمیر څخه تښتیدلي دي خبرزیاتوي چې دبیلا بیلو عملیاتو په ترڅ کې چې کوم هندي پوځیان وژل شوي دزیاترو جسدونه له هغو سیمو څخه نامعلومو ځایونوته وړل شوي دي .

حـركت المجـاهدين ...

کولو په نتیجه کې څلویښت تنه هندي پوځیان وژلي اوپه سلگونو نورې ټپي کړیدي .

په خبرونو کې ویل شوي دي چې ددغه حملې له امله درادارسیستم ته سخت زیان رسیدلی دی چې په دې خبرباندې پخپله دهندراډیو هم اعتراف کړیدی.

خبروایي چې په سرینگر کې حرکت المجاهدین دیوې غونډې په ترڅ کې په نورو تنظیمونو ټینگارکړیدی چې هغوی باید له پوځي هډو اوپوځي چاونیو پرته په عامه هستوگنځیو باندې له حملو کولو څخه ډډه وکړي ځکه چې هندي پوځونه بیا له هغې نه ناوړه استفاده کوي .

داتمې فرقې قوماندان له ۲۸ تنو عسکرو ...

دلوگرولایت څخه په رارسیدلو رپوټونوکې څرگنده شویده چې اتلو مجاهدینو دمحمد آغې په ولسوالۍ کې دیوه عملیات په ترڅ کې کمونست رژیم ته زیات مالي اوځاني تاوانونه وراړولي دي .

پدې بریالي عملیاتو کې داتمې فرقې قوماندان د۲۸ تنو عسکرو سره دمجاهدینو له‌خوا ژوندي نیول شوی اویو شمیرنورې ځپلی اویا ټپیان کړیدي .

په خبرکې ویل شویدي چې ددې عملیاتو په لړکې ډېرې وسلې اومهمات دمجاهدینو لاسته ورغلل.

که په خلیج کې جگړه ونښلي نو(۱۰۰) ملیونه خلك به مړه شي

«۷» مخ -

پایان کنفرانس وزرای ...

درزمینه حاکیست که سه کشور مذکور در رابطه به بحران خلیج متفقاً تصویب نمودند تابخاطرحل صلح آمیزمسأله خلیج واعاده صلح وامنیت به منطقه،کنفرانس کشورهای اسلامی بصورت عاجل دایرگردد.

همچنان در اعلامیهٔ مشترك كه درختم كنفرانس وزرای مذکور انتشار یافته امده است که سه کشور اشتراك کنندهٔ کنفرانس موضع وموقف واحدی دررابطه به بحران خلیج دارند ونیز

ازعراق تقاضابعمل امده است تاخاك كويت را تخليه نمايد .

وزرای خارجه مذکور به ضرورت جلوگیری ازبروزجنگ درخلیج نیزتاًکید نمودند

نوازشریف صدراعظم پاکستان درجلسه اختتامیه کنفرانس ضمن تفهیم اشغال کویت گفته بود اگر عراق به انضمام خاك کویت بکشورش توفیق حاصل نماید این امر امنیت وآینده تمام کشورهای کوچك رامورد تهدیدقرارخواهد داد.

دهیئت تحریر ترنظر لاندې

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)

یونیورسټي ټاؤن پیښور

ټیلفون :... (٤١٧٤٦)

عراق خپلې ټولې سفارتخانې له بغداد نه نوروښارونو ته انتقال کړې دي

جنگ ، دجنوري ۷:

بغداد: عراقي مشرانو ویلي دي چې دجگړې دخطر په پام کې نیولوسره ټولې سفارتخانې بایددعراق له مرکزدبغداد څخه البرامدي ښارته ولیږدول شي. دغه ښارله بغداد څخه یوسلولس کیلومتره په واټن په لویدیځ عراق کې واقع دی .

دسفارتي ذرایعو دخبرله مخې عراقي حکامو دتیرې جمعې په ورځ دبریتانیا ، جاپان ، مالیزیا ، هنداوروسیې سفیران خارجه دفتر ته غوښتي وو اوله هغوی سره یې له مرکز څخه یوبل ښارته دسفارتخانو دلیږدولو په باب خبرې اترې کړې وي .

دسعودي عربستان ، مصر اوشام دبهرنیو چاروو وزیرانو دبندو دروازو شاته غونډه وکړه

ریاض : په یو خپورشوي خبرکې ویل شوي چې دسعودي عربستان،مصر اوشام بهرنیو چاروو وزیرانو دخلیج دکړکیچ دسوله ایزحل دلاروچارودلټولو په خاطرخبرې اترې وکړې .

دتړلو دروازو شاته ددغه غونډې مشري دسعودي عربستان دبهرنیو چاروو وزیرشهزاده مسعود الفیصل په غاړه درلوده .

دنوموړوهیوادونو دبهرنیو چاروو وزیرانو دجنوري په (۹) نیټه دجیمزبیکر اوطارق عزیزترمنځ کیدونکي خبرې یونیک اقدام وگاڼه .

له بلې خوا ویل شوي چې دسعودي عربستان پاچا فهد دیکشنبې په ورځ دعراق په شمالي پوله دپرتو سعودي اوبهرنیو پوځونو ځایونه وکتل.

رژیم کابل اماده گي میگیرد تاگازطبیعي کشوررابه روسها اهداکند

رژیم کابل درنظردارد که طي چندماه آینده فروش گازطبیعي برروسیه راازسرگیرد .

طبق یك خبر رادیو صداي امریکا نامه نگارآژانس رویتربقول یك نطاق وزارت خارجه رژیم کابل گزارش داده است که متخصصین روسي به شهرمزارشریف رسیده اند تاپایپ لاین رابکاراندازند که قبلاً ازطریق آن به روسیه گازطبیعي صادرمي شد .

ازفبروري سال ۱۹۸۹ که عساکرروسي ازافغانستان خارج گردیدند تاحال روسیه گازطبیعي راازافغانستان وارد نه نموده است .

طبق خبرمذکورنطاق وزارت خارجه رژیم کابل بصورت مشخص نگفته است که چه وقت صدورگازبه روسیه ازسرگرفته خواهد شد .

عراقي پوځیان او ...

جزدی اوسبابه هم وي .

صدام پوځ ته په خطاب کې ویلي دي چې له امریکې سره به دعراق شخړې ترزیاتې مودې پورې رواني وي اوموږ له امریکا سره دیوې اوږدې جگړې لپاره چمتو یو.